ورځپانه
هېواد

مؤسس: عبدالرووف بېنوا
د تاسیس کال ۱۳۲۸ لمریز
يکشنبه دمحرم الحرام۵ مه ۱۴۴۵ ق کال| دزمري لومړۍ، ۱۴۰۲ ل کال| دجولای ۲۳ مه ۲۰۲۳ م کال| خصوصي ګڼه۸۷ يمه| پرله‌پسې ګڼه۱۷۷ يمه ،اتمه‌دوره

اسلامي امارت:

# په افغانستان کې د داعش په اړه د ایران د بهرنیو چارو د وزیر وروستی څرګندوني حقيقت نه لري

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د ایران د بهرنیو چارو د وزیر هغه ادعا په کلکه رد کړه، چې ګواکې د داعش مشران له عراق، سوريې او لیبیا څخه افغانستان ته نقل شوي دي.د یاد وزارت ویاند په خپله ټویټر پاڼه د ایراني لوري دغه ادعا بې بنسټه بللې ده.سرچینې زیاته کړې، چې د افغانستان اسلامي امارت امنیتي ځواکونو هم د اشغال پرمهال او هم د اشغال له پای ته رسېدو وروسته د داعش پرخلاف جدي او منظمه مبارزه کړې، چې په پایله کې یادې ډلې خپله تخریبي وړتیا له لاسه ورکړې ده.د بهرنیو چارو وزارت ویاند همدارنګه ویلي، که چېرې ایران افغانستان ته د داعشیانو د اړولو په هکله معلومات لري هیله ده، چې شریک یې کړي ،ترڅو یې د افغانستان امنیتي ځواکونه په اړه لازم اجراات وکړي.نوموړي ویلي، چې (افغانستان له یادو عربي هیوادونو سره ګډه پوله نه لري، د دې پر ځای چې پر نورو مسئولیت واچول شي، ښه داده چې هیوادونه ۵مخ

مولوي محمد یعقوب مجاهد :

# د امریکا فشارونو ته غاړه نه ایښودونکي هیوادونه دې اسلامي امارت په رسمیت وپېژني

د افغانستان د ملي دفاع وزارت سرپرست وزير مولوي محمد يعقوب مجاهد ويلي: اسلامي امارت د رسميت پېژندنې شرايط پوره کړي؛ خو بيا هم اکثره هيوادونه د امریکا د فشار له کبله هغه پر رسميت نه پېژني. محمد يعقوب مجاهد د سعودي عربستان له العربيه تلويزيون سره په مرکه کې څرګنده کړې: هغه هېوادونه، چې د امریکا فشارونو ته غاړه نه‌ږدي؛ باید اسلامي امارت پر رسميت وپېژني.نوموړي زياته کړې: موږ له هيوادونو په ځانګړې توګه له پياوړيو اسلامي هيوادونو غواړو، چې زموږ حکومت پر رسميت وپېژني.ده ويلي: که دغه هيوادونه اندېښنې ولري؛ اسلامي امارت چمتو دی، چې د حل لپاره يې خبرې وکړي.د ملي دفاع وزارت سرپرست ټينګار کړی ، چې اسلامي امارت له القاعده شبکې سره هېڅ ډول اړيکه او همکاري نه‌لري.محمد يعقوب مجاهد له امریکا وغوښتل، چې د افغانستان له فضايي حريم څخه سرغړونې ودروي؛ ځکه اسلامي ۵مخ



د افغاني سرې مياشتې سرپرست:

# نړۍ دې له سیاسته ور اخوا د افغانانو لاسنیوي ته را وړاندې شي

په ترکيه کې د افغاني سرې مياشتې او د ترکيې، قطر، انګلستان، استراليا، کاناډا، جرمنې، ناروې، فنلينډ او د ډنمارک د ملي ټولنو او د ملي ټولنو د نړيوال فدراسيون د مسئولينو ترمنځ د افغانستان پر اوسني وضعيت، افغانستان کې پر بشري فعاليتونو او د بشري مرستو پر جلب او يو شمېر نورو موضوعاتو ګډه ناسته ترسره شوه.په ياده ناسته کې د افغاني سرې مياشتې سرپرست مولوي مطيع‌الحق خالص د سوري زړه د ماشومانو د درملنې، له اړمنو سوالګرو سره د مرستې، د کونډو او بې سرپرسته کورنيو د لاسنيوي، د رواني ناروغانو د درملنې او ساتنې، د رضاکارانو د شمېر په زياتولو او په نشه يي توکو د روږدو ۵مخ



# د لومړي ځل لپاره له افغانستان څخه امریکا ته د انارو جوس صادر شول

اسلامي امارت په لومړي ځل له افغانستان څخه امريکا ته د ((پاميرکولا)) کمپنۍ له لوري له هرات ولايت څخه امريکا ته




صادراتو د پیلېدو خبر ورکوي.د اسلامي امارت ویاند ښاغلي ذبیح الله مجاهد پر ټوېټرپاڼه لیکلي، چې د لومړي ځل لپاره له افغانستان څخه امریکا ته د انارو له اوبو څخه جوړه شوې نوشابه صادره شوه.نوموړي لیکلي چې دا نوشابه صادره شوه.مجاهد په دې اړه نور جزيات نه دي ورکړي، چې دا صادرات یې په څومره اندازه او له کومې لارې کړې دي.له دې وړاندې افغانستان ګڼو اروپايي هیوادونو ته هم د صادراتو د پیلېدو خبر ورکړی دی.

# د امام ابوحنیفه (رح) نندارتون کې له ۶۰۰ ډېرو سیمه ییزو پانګوالو ګډون کړی و

په کابل کې د امام ابوحنيفه (رح) په دويم شپږ ورځني نړيوال نندارتون کې د پاکستان، ايران او ترکمنستان څه باندې ۶۰۰ پانګوالو او سوداګرو ګډون کړی دی.دغه نندارتون، چې د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو خونې له‌خوا د چنګاښ له شپاړسمې تر دوه‌ويشتمې پورې جوړ شوی؛ ګڼشمېر بهرنیو سوداګرو او صنعتکارانو په کې خپل تولیدات نندارې ته وړاندې کړي دي.د پاکستان د سوداګرۍ د پراختيا ټولنې او له ۲۵ څخه زياتو مشهورو پاکستاني صنعتکارانو هم په دغه نندارتون کې ګډون کړی دی.د افغانستان د سوداګرۍ او صنايعو خونې ټويټ کړی: د پاکستان، ترکيې او ترکمنستان بېلګه ) تر سرليک لاندې کنفرانس کې، چې د افغانستان د سوداګرۍ او صنايعو خونې له‌خوا جوړ شوی و؛ ګډون



سوداګرو استازيو په B2B (سوداګرۍ ته د سوداګرۍ) وکړ او له پانګونې سره يې ليوالتيا څرګنده کړه.د دې نندارتون د چارواکو د څرګندونو له مخې؛ دغه نندارتون نه يوازې د افغان سوداګرو د سيمه ييزو توليداتو په وده کې مرسته کوي، بلکې له سيمه ييزو شريکانو ۵مخ

# په پکتیکا کې ۱۵۰۰ کورنیو ته د څښاک اوبه برابرېږي

د پکتيکا په ګيان او زيړوک ولسواليو کې د څښاک اوبو رسولو د ۷ پروژو چارې پيل شوې.د دې ولايت د کليو د بيارغونې او پراختيا رياست مسئولينو باختر آژانس ته ويلي، چې دغه پروژې د (يواېس.اې او ايچ.اېچ.آر.ډي) موسسو په مالي ملاتړ پلې کېږي، چې پرې ۲۲ زره او ۵۰۰ امريکايي ډالره لګښت راځي.
د مسئولينو په وينا: د يادو پروژو په پلي کولو سره به د دغو ولسواليو ۱۵۰۰ کورنيو ته د څښاک اوبه برابرې شي.

# زابل کې اوس ۷۷ روغتیايي مرکزونه فعالیت لري

د زابل د عامې روغتيا رياست مسئولين وايي ،چې د پخوا په پرتله زابل کې اوس مهال روغتيايي خدمتونه ښه شوي او خلکو ته په ښه ډول روغتيايي خدمتونه وړاندې کېږي.
د دغه ولايت د عامې روغتيا رئيس ډاکټر ميرويس افغان وويل، چې د پخوا په پرتله د روغتيايي خدمتونو د ښه والي لامل لرې پرتو سيمو کې روغتيايي خدمتونو ته د خلکو د لاسرسی زياتوالي او دغه راز د جګړې ختمېدل دي.
افغان زياته کړه، چې له دې وړاندې په زابل کې يوازې ۵۰ روغتيايي مرکزونه وو، خو اوسمهال دا شمېره ۷۷ روغتيايي مرکزونو ته لوړه شوې، چې ورسره روغتيايي خدمتونو ته د خلکو لاسرسي هم زيات شوی دی.ورته مهال د زابل يو شمېر اوسېدونکي هم اوس مهال دې ولايت کې د روغتيايي خدمتونو د ښه والي خبره کوي او وايي : اوسمهال په ډېره لرې پرته سيمه کې روغتيايي مرکز شتون لري او غوره خدمتونه په کې وړاندې کېږي.دوی دغه راز غوښتنه کوي، هغو سيمو ته چې دې ته ورته د روغتيايي خدمتونو په برخه کې کار نه دی شوی پاملرنه وکړي.
په همدې حال کې د دغه ولايت د عامې روغتيا رئيس ډاکټر ميرويس افغان وويل، هڅه کوي هغو سيمو ته چې خلک يې له روغتيايي خدمتونو بې برخې دي او يا هم



ورته د لاسرسي په برخه کې ستونزې لري لا زيات کار وکړي.

# په هرات کې هره ورځ ۲۰۰۰ بطرۍ تولیدېږي

په هرات ولايت کې د بطريو د توليدي شرکت مسئولين وايي، چې په ورځني ډول دوه زره بطرۍ توليدوي او په نږدې راتلونکې کې به له هيواد څخه بهر هم د خپلو توليد شويو بطريو صادرات پيل کړي.
دوی وايي، د دغو بطريو په توليد سره توانيدلي، چې افغانستان بطريو په برخه کې پر ځان بسيا کړي. په دې فابريکه کې ۱۸۰ تنو ته د کار زمينه برابره شوې ده.
افغان حکومت هم د کورنيو توليداتو د ودې او په کور دننه له داخلي توليداتو په ګټې اخيستنې ټينګار کوي.

شيخ عبدالباقي حقاني:

# د کانکور آزموینې د ګډونوالو حق به ضایع نه شي

د آزموينو د ملي اداري رئيس شيخ عبدالباقي حقاني پکتيا ته د سفر په ترڅ کې د کانکور آزموينې له صحنې څخه د ليدنې پرمهال ګډونوالو ته ډاډ ورکړ، چې د کانکور آزموينې پايلې به ډېرې شفافې وي او د هېچا حق به ضايع نه شي.حقاني زياته کړه، چې د کانکور پايلې د يو منظم شفاف سيستم پرمټ په سمه توګه کنټل کېږي او هېڅ لاسوهنې ته په کې ځای نشته.د ده په وينا:د سږني کانکور پوښتنې ساده او د تعليمي نصاب مطابق جوړې شوې ، چې په همدې اساس به حق حقدار ته سپارل کېږي.ورته مهال په دې ولايت کې د کانکور ګډونوالو د آزموينې د ملي اداري له رهبرۍ څخه مننه وکړه، چې د کانکور آزموينې په پروسې کې يې آسانتياوې رامنځته کړې دي.دوی همدارنګه د آزموينې د پايلو پر شفافوالي ټينګار وکړ. په ورته وخت کې د پکتيا پوهنتون رئيس پوهنمل عبيد الله اخندزاده بيا وويل، چې



د آزموينو ملي اداري اوسنۍ رهبرۍ د کانکور په پروسه کې مثبت بدلونونه راوستي چې له امله يې په پوهنتونونو کې د پرمختګ سبب شوي دي.




## د فشار او بندیزونو دوام؛ د ناکامو تګلارو تسلسل!

اروپایي ټولنې ورمه ورځ د اسلامي امارت پر درېو تنو لوړرتبه چارواکو:هریو د پوهنې وزیر، د عدلیې وزیر او قاضي القضاة باندې د مېرمنو د زده کړو او کار په وړاندې د خنډونو جوړولو په تور محدودیتونه وضع کړل.اسلامي امارت د اروپایي اتحادیې له لوري د خپلو یو شمېر چارواکو تحریمول د ناکامو تجربو تکرار او بې ګټې کار بللی دی. په دې هکله د اسلامي امارت ویاند ذبیح الله مجاهد په خپله ټویټر پاڼه لیکلي: «د اروپایي اتحادیې له لوري د افغانستان د اسلامي امارت ځینې مشران د تحریم لیست ته اچول هېڅ لوري ته ګټه نه لري، د دې پرځای چې د فشار او تحریم له غوراوي څخه استفاده کېږي، باید له تعامل، ډیالوګ او تفاهم څخه کار واخیستل شي».نوموړي دغه راز ویلي، چې په تېر کې هم د افغانانو په وړاندې د ناکامو تجربو تکرارول او تحمیلي سیاست پایله نه ده ورکړې او په راتلونکې کې هم دغه ډول فارمولې د هیچا په ګټه نه دي.رښتیا هم تېرې دوه لسیزې چې افغانستان د امریکا په مشرۍ د لوېدیځې نړۍ تر اشغال لاندې و د ازادۍ او استقلال د بېرته اعادې لپاره د کېدونکې سپېڅلې مبارزې د ځپلو لپاره بې ساري نظامي، سیاسي او اقتصادي فشارونه وکارول شول؛ خو نه یوازې د استقلال لپاره کېدونکې مبارزه یې پیکه نه کړای شوه، بلکې لا یې پراخه او ځواکمنه کړه.

اوس هم باید نړیواله ټولنه، په ځانګړې ډول لوېدیځه نړۍ له تېر څخه عبرت واخلي او د فشار پر ځای دې ډیالوګ، تعامل او سیاسي حل ته مخه وکړي.

# د عفوې خوند له انتقامه خوږ دی

امین وردګ

اساسي ستونزه د انسان په نفساني کیفیاتو کې همدا ده چې تل پر ځان حاکم نه وي! کله د کینې او قهر تر اثر لاندې راشي، خو کله-کله بیا د مینې او عاطفې.

هغه ډله انسانان چې زیاتره یې د مینې په غېږه کې وده کوي،له هغو انسانانو په ځو واره خوشبخت دي.چې د کینې پر نیلۍ سپرېږي، ځکه خو عفوه یا ښښنه هم یوازې هغه انسانان کولای شي د کومو چې د عواطفو او مینې سلنه تر کینې لوړه وي. برعکس! هغې ډلې انسانانو ته بیا ښښنه یو غر ښکاري، د کومو چې پر وجود قهر او غضب حکومت کوي.

ځینې خلک داسې فکر کوي چې کله انسان خپل کسات یا انتقام واخلي نو ایله بیله به آرام شي، خو نه داسې نه ده! سکون په انتقام کې نه بلکې په عفوه کې نغښتي. تاسو لږ دغې نکتې ته ځېر شئ!

هغوی چې تل د انتقام فکر ورسره دی، تل ناآرامه هم دي ، خو کله چې انتقام واخلي، نو لا پسې نا آرامه شي! ځکه چې له انتقامه وړاندې کینې په منډو کړي وي، مګر له انتقامه وروسته بیا وهم او ډار.

خو هغوی چې د انتقام جذبه نه لري، آرامه او سوکاله ښکاري؛ کله چې ښښنه وکړي، نو لاپسې آرام شي او یو بل عاطفي ډاډ تر لاسه کړي؛ چې دغه حساس او خوږ حرکت یې تل په مغز کې څرخي او د ده روح ته سکون ورکوي.

بله او مهمه نکته دا هم ده چې په ښښنې سره معضله ډېره چسته او آسانه حلېږي، خو کسات بیا جانبي خلاګانې خامخا لري.



موږ باید د نورو لپاره د آینې په توګه و اوسو او همدا راز خپل شکلونه هم د نورو په وجودونو کې وګورو.

په رښتیا موږ له نورو څه تمه لرو؟ موږ چې کله پر یو چا ملامت شو، نو له هغهٔ کس څخه مو توقع څه وي؟

آیا زموږ هم دا خوښه ده چې یو څوک مو په دار وځړوي؟

موږ ته چې څوک د کسات پر ځای ښښنه وکړي څه به احساس کړو؟

موږ چې تل د خپل رب په وړاندې ملامت یو! نو بیا ولې تل له هغهٔ نه د کسات پر ځای د ښښنې تمه لرو؟ لږ په دقت سره دغې نکتې ته وګورئ!

موږ پرون په ډېرې سپین سترګۍ سره سخته ګناه کړې وي، مګر نن مو سترګې له اوښکو ډکې او الله ته مو لاسونه لپه کړي او همدا ترې غواړو چې: اې پاکه الله! له موږ څخه انتقام مه اخله، بلکې عفوه راته وکړه.

او اې! لږ وروسته بیا په همغې (یا تر هغې هم په سخته) ګناه واوړو او بله ورځ مو بیا سترګې نمجنې وي او د ښښنې په تمه آسمان ته ګورو.

نو همدغه مینه ده!

دا به ډېره بې انصافي وي چې موږ د ځانونو لپاره ښښنه خوښوو او د نورو لپاره انتقام!

په پای کې دا خبره باید یاده کړو چې ښښنه کول د کمزورو او ضعیفو خلکو کار نه! بلکې د سترو ، هوښیارو ، عاقلو او زورورو کار دي.

ښښنه جرئت، زړه، همت او... غواړي.

ښښنه پوهه، لوړ خیال او ژور فکر غواړي.

ښښنه عواطف غواړي محبت غواړي ، جرئت غواړي.

ښښنه د هر - هر چا کار نهٔ دی، نو ځکه خو زه د ځان لپاره دا دعا کوم چې اې الله پاکه! ماته د ښښنې کولو او کسات نه اخیستلو برخه راکړه، خدایه داسې نارینه رانه جوړ کړه چې د ستنې په کچه هم له چا نه کسات وانخلم.

# کرامت انسانی از دیدگاه اسلام

پوهندوی صاحب داد کریمی

بعضی از جریان های فکری، انسان را به طور ذاتی فاقد کرامت می دانند و منشأ کرامت وی را در اموری مثل وابستگی او به دولت، حکومت، نژاد، عقیده و مذهب خاص جستجو میکنند. اما اسلام برای انسان، بخاطر انسان بودنش کرامت ذاتی قائل است. این کرامت بر یک سلسله مفاهیم و ارزش های بنیادین اخلاقی و دینی، آزادی، اراده و اختیار و قدرت تعقل و تفکر و داشتن نفخة الهی مبتنی است. دین اسلام، علاوه بر کرامت ذاتی، به کرامت اکتسابی که مهمترین معیار و مبنای آن تقوا و ایمان است نیزمعترف و آنرا محترم میشمارد. این نوشته بحث فشرده ای روی مفهوم و مبانی کرامت ذاتی و اکتسابی انسان از دیدگاه اسلام پرداخته است.

مفهوم کرامت انسانی: کرامت در لغت معنی مختلفی دارد. مهمترین آنها عبارتند از: ارزش، حرمت، حیثیت، بزرگواری، عزت، شرافت، انسانیت، شأن، مقام، موقعیت، درجه، رتبه، جایگاه، منزلت، پاکی از پستی آلودگی ها، احسان و بخشش، جوانمردی و سخاوت است. با دقت در معنی لغوی کرامت متوجه میشویم که کرامت بیانگر دو نوع خصوصیت متفاوت در انسان است. بعضی از این خصوصیت ها رتبه، درجه و موقعیت افراد را نشان می دهد. به عبارتی جایگاه اجتماعی، سیاسی، دینی و خانوادگی افراد را بیان میکند مانند کرامت شاه، رئیس، و کرامت مؤمن. این نوع کرامت اکتسابی و یا ارزشی و قابل اکتساب و سلب است. اما بعضی از این خصوصیات، مثل انسانیت در ذات انسان بوده، نه قابل سلب است و نه قابل رتبه بندی و درجه بندی که اصطلاحا به کرامت ذاتی گفته میشود.

کرامت ذاتی: کرامت ذاتی رامیتوان چنین تعریف کرد که تمام انسان ها به جهت استقلال ذاتی، توانایی اخلاقی و نفخهٔ الهی که دارند، به طور فطری و یکسان از آن برخوردار هستند. مهمترین دلایل آن آیت (۷۰) سورهٔ اسراء « و لَقَد کَرَّمنا بنی آدم » است که طبق محتوای آن خداوند فرزندان آدم را بخاطر انسان بودن گرامی داشته است. همچنین احترام رسول الله صل الله علیه و سلم به جنازهٔ یهودی شاهد این مدعا است. کرامت ذاتی مستلزم آن است که انسان دارای حقوق فطری، طبیعی و اجتماعی، مانند حق حیات، حق آزادی اندیشه و بیان و مانند آن میباشد. کرامت ذاتی ارزش و حرمتی است که انسان از اینکه انسان است، از آن برخوردار است. این کرامت، غیرقابل انفکاك و انتزاع از وجود انسان است. هیچ گونه ارتباطی با عقیده، نژاد، مذهب و مانند اینها ندارد. به عقیدهٔ علماء آن عدهٔ آیات قرآن کریم، که کافران و بعضی دیگر از انسان ها را به دلیل عدم استفادهٔ صحیح از قوای تعقل، تفکر و شنوایی و بینایی شان، به حیوانات تشبیه کرده است، به معنای زوال کرامت ذاتی از آنان نیست. بلکه نقد رفتار آنان بخاطر تضاد با هدفی است که خداوند انسان را برای آن آفریده است. یعنی این نوع انسان ها، نفس ملکوتی خود را دراختیار نفس حیوانی خود قرار داده اند و تنها به خواب، خوراك، خشم و شهوت مشغول اندو از حیات انسانی بی خبرند.

کرامت اکتسابی: کرامت اکتسابی شرافتی است که انسان به صورت ارادی و از طریق به کار انداختن استعدادها و توانایی های ذاتی خود در مسیر رشد، کمال و کسب فضایل اخلاقی، به دست میآورد به عبارتی رفتار انسانی منزلت های متفاوتی راایجاد می کند. در نتیجه، افراد نسبت به یکد یگر برتری پیدا می کنند. مهمترین معیار و محور کرامت اکتسابی تقوا و ایمان است. زیرا خداوند فیفرماید: ترجمه :« ای مردم ما شما را از یک مذکر و مونث پیدا کرده ام و ملت ها و قبایل گردانیدیم تا یکدیگر را بشناسید با کرامت ترین شما نزد خداوند با تقوا ترین شما است.» (حجرات۱۳) طبق محتوای این آیت: نژاد، زبان، جنسیت وغیره هیچ ارتباطی با کرامت انسانی ندارند، همهٔ انسان ها دارای کرامت اند اما با کرامت ترین آنان نزد خدا، باتقواترین آنان است، کرامت مبتنی بر تقوا وایمان نزد خدا و در روز قیامت می تواند ملاك برتری و امتیاز بیشتر انسان ها نسبت به همدیگر باشند و هیچ تأثیری در حقوق اجتماعی ندارند. الله متعال بهره مندی از مواهب طبیعی در این دنیا را بر همهٔ انسان ها، صر ف نظر از ایمان و اعتقاد آنان، مقرر نموده و مفکورهٔ برتری مؤمنان در بهره گیری از حقوق طبیعی در این جهان را مردود می شمارد.

نتیجه گیری: کرامت انسان در اسلام، نه بر مبنای یک امر قراردادی و اعتباری، بلکه بر مبنای احکام و فرامین الهی توجیه می شود. از دیدگاه شریعت اسلامی، هر انسان ما دامیکه عنوان انسان و بنی آدم بر او صادق است به دلیل داشتن توانایی تعقل، تفکر، آزادی، اراده واختیار و نفخهٔ الهی، به طور فطری و یکسان از کرامت انسانی و حقوق فطری ناشی از آن برخوردار است. احترام به کرامت ذاتی انسان، مستلزم احترام به استقلال و آزادی انسان و قدرت انتخاب، تعقل وتفکر اوست. تنها در موارد استثنایی، که حفظ نظم عمومی، رعایت مقتضیات دینی، اخلاقی واحترام به حقوق و آزادی دیگران اقتضا می کند و در چارچوب اصل حاکمیت قانون ومحاکمهٔ عادلانه و منصفانه، میتوان آنها را محدود کرد.

در کنار آن انسان دارای کرامت اکتسابی و ارزشی نیز هست که از به کار انداختن استعدادها و نیروهای مثبت در وجود آدمی و تلاش در مسیر رشد و کمال و خیرات ناشی می شود. این کرامت، اکتسابی و اختیاری است که ارزش نهایی و غایی انسان است و خداوند متعال انسان را به دلیل داشتن همین استعداد ذاتی و فطری، برای درک حقایق و اسرارهستی، خلیفهٔ خود در روی زمین قرار داده است. مقام ذاتی جانشینی و خلافت الهی انسان با افعالی مانند فسا د، خون ریزی نفی نمی شود؛ آنچه مورد سرزنش قرار می گیرد، وجود انسان نیست، بلکه رفتار و فعلی است که از او سر می زند و فعل انسان از ذات او جداست.

آگاهان امور نظامی :

# رعایت نظم یک اصل اساسی و مهم برای نیروهای امنیتی است

آگاه هان نظامی می‌گویند که داشتن لباس نظامی یک اصل اساسی و مهم



برای نیروهای امنیتی هرکشور می باشد و اگر نظم در بین نیروهای امنیتی وجود نداشته باشد، این مسئله سبب افزایش جرایم و بی نظمی در بین نهادهای امنیتی می گردد.

این اظهارات آگاه هان نظامی در حالی مطرح می‌شود که هفته گذشته ملا یعقوب مجاهد، وزیر دفاع امارت اسلامی در مکتوبی، از همه نیروها و پرسنل این وزارت درخواست کرده تا لباس مخصوص نظامی بپوشند.

نورالله ابراهیم خیل، آگاه نظامی می گوید، که داشتن لباس مشخص یک اصل اساسی و مهم برای نیروهای امنیتی هرکشوراست، اگر نظم در بین نیروهای امنیتی وجود نداشته باشد، این موضوع سبب افزایش جرایم و بی نظمی در بین نهادهای امنیتی می‌شود.

این آگاه نظامی خاطر نشان ساخت: لباس مشخص به نیروهای امنیتی کمک می کند تا در مواجهه با وظایف و مسئولیت‌های خود به صورت حرفه‌ای عمل کنند و شهروندان به راحت ترین شکل ممکن آن‌ها را تشخیص داده و همرای شان ارتباط بر قرار کنند.

او با بیان اینکه نیروهای امنیتی مسئول حفظ قانون و نظم در جامعه هستند، افزود که اگر در بین نیروهای امنیتی نظم واحد وجود نداشته باشد این نیروها نمی‌توانند در جامعه قانون را پیاده و نظم را به وجود بیاورند.

ابراهیم خیل، تاکید کرد که داشتن لباس مشخص نیروهای امنیتی، سبب کاهش جرایم و افزایش همکاری مردم با این نیروها می‌شود، از این جهت مقامات نیروهای امنیتی امارت اسلامی باید تلاش کنند که به زود ترین فرصت ممکن برای تمام نیروهای امنیتی لباس نظامی توزیع کنند.

او همچنین علاوه کرد که هدف از داشتن لباس مشخص در نظام‌های امنیتی، تشخیص سرعت و راحت بودن در تعامل با جامعه است و همچنین به عنوان نظام اعتبار و قدرت را میدهد.

آصف محمدی، باشنده ناحیه سوم شهرکابل می گوید، که با وجود توزیع لباس‌های مخصوص نظامی از سوی وزارت‌های دفاع و داخله برای نیروهای امنیتی، اما تعدادی از این نیروها در شهر کابل با لباس‌های شخصی گشت و گذار می کنند که این امر باعث سوء استفاده دزدان از وضعیت گردیده و مردم از این مسئله نگرانی دارند.

محمدی، علاوه کرد، که استفاده نکردن یونیفورم از سوی برخی نیروهای امنیتی و گشت و گذار آنان در جاده‌های شهرکابل سبب شده است که مجرمین و افراد غیر مسئول از این وضعیت سوء استفاده کنند و دست به آزار و اذیت مردم بزنند.

به اساس گفته های او داشتن لباس در سازماندهی و هماهنگی فعالیت‌های نیروهای امنیتی ضروری است، تا بتوانند به صورت هماهنگ و مؤثر در برابر تهدیدات امنیتی عمل کنند.

او ابراز داشت که اگر نیروهای امنیتی در پوشش لباس با دیگر اعضای جامعه تفاوت نداشته باشد، شهروندان مجرمین را تشخیص کرده نمی‌توانند.

همچنین نعیم حسنی، باشنده ناحیه ششم شهرکابل در صحبت خود گفت:

در اکثر ایست‌های بازرسی، نیروهای امنیتی امارت اسلامی بدون لباس مخصوص اند که شهروندان نمی‌توانند تفکیک کنند، این افراد اعضای امارت اسلامی هستند و یا سایر گروه ها اند.

او از رهبران امارت اسلامی خواست که از نیروهای امنیتی بخواهند تا آنان از لباس های مشخص که برای شان توزیع شده است استفاده کنند در غیر آن با گذشت هروز جرایم در کشور بیشتر خواهد شد.

حدود دو سال از حاکمیت دوباره امارت اسلامی در افغانستان می گذرد، اما تاکنون نیروهای امنیتی در برخی مناطق ازلباس مشخص استفاده نمی کنند.

نگرانی ها از نداشتن لباس مشخص برای اعضای امارت اسلامی در حالی مطرح می شود که برخی رسانه‌ها گزارش داده‌اند که در مواردی کسانی تحت نام اعضای امارت اسلامی سبب آزار واذیت مردم می شوند.

# په کندهار کې د افغاني جامو بازار ښه تود دی

افغاني ګنډ د هیواد د نورو ولایتونو په څېر په کندهار کې هم اوږده مخنیه لري او سلګونو خلکو ته د ګټې وټې او کارو بار وسیله هم ده.

سربېره پر دې دغه جامې ډېر مینه‌وال لري او آن له هیواده بهر هم د پلور لپاره استول کېږي او په بهر کې مېشت افغانان یې په ځانګړو فرهنګي او دودیزو مراسمو کې اغوندي.

رابعه همراز په کندهار کې د افغاني ګنډ د جوړولو یوه بشپړه کارخونه لري، چې د دوو لوېو ترڅنګ یې د کلي څو نورې مېرمنې هم ورسره په کار بوختې دي او جامې جوړوي.

د همراز د معلوماتو پر بنسټ افغاني جامې یا افغاني ګنډ په معمول ډول په درېو بڼو جوړېږي ،چې د کیفیت او نرخونو په لحاظ هم بیا له یو بله توپیر لري.

(( دا کالي ،خو څو ډوله جوړیږي چې ځینې یې ډېر کم مصرف لري، خو هغه کالي چې زیات کار یې په لاس سره ترسره کېږي، یوه جوړه په څلور- پنځو ورځو کې جوړېږي چې هغه بیا زیات قیمت هم لري.))

محمد غني بیا په کندهار ښار کې د افغاني ګنډ پلورنځی لري. نوموړی وایي ،چې افغاني جامې نه‌یوازې په هیواد کې دننه مینه‌وال لري، بلکې په بهر کې مېشت افغانان یې هم په انلاین بڼه پېري.

((زما کار ټول انلاین دی، ټول هغه کسان چې په کاناډا، امریکا او لندن کې دي، له ما څخه دغه کالي په انلاین بڼه رانیسي. نه‌یوازې افغانان، بلکې پاکستانیان او هندوستانیان هم دغه کالي رانیسي او خوښوي یې.))

ګنډ افغاني تر ډېره د لاس خواري غواړي او له همدې کبله ده، چې یو شمېر دوکانداران بیا د دغو جامو د خامو ټوکو کاروبار کوي.

محمد کریم رحیمي چې د افغاني جامو د خامو ټوکو دوکان لري، وایي چې دغه جامې خپل ارزښت او هویت لري.

(( ارزښت یې دا دی چې دا زموږ د خپل وطن تولید دی او په خپل لاس یې ښځې جوړوي.))



ښځینه فعاله لطیفه رحیمي بیا وایي ،چې افغاني ګنډ ډېر وخت نجونې د خوښۍ په محفلونو کې اغوندې.

د نوموړې په خبره دغه جامې د افغانانو هویتي او کلتوري ارزښت دی.(( اوس چې زه هرې ښادۍ یا هم واده ته تللې یم وینم چې نجونې له بل هر وخته ډېر افغاني کالي اغوندي او ډېر ښه خوند هم ورسره کوي.))

بل لوري ته حکومتي چارواکي وایي ،چې د افغاني تولیداتو او لاسي صنایعو لپاره د هیواد په دننه او بهر کې د بازارموندنې هڅه کوي.

د صنعت او سوداګرۍ وزارت ویاند عبدالسلام جواد وایي: وزارت په دې هڅه کې دی ،چې د ښځو لاسي صنایع په خاص ډول د افغاني جامو د پلور لپاره انلاین بازار جوړ کړي.

(( موږ د کندهاري مېرمنو هغه ابتکار، چې افغاني کالي په کورونو کې جوړوي او بیا یې په بازار کې خرڅوي او له دې بازار څخه بهرنیو هیوادونو ته استول کېږي ستایو او ملاتړ یې کوو. موږ هم په دې هڅه کې یو چې یوه انلاین فروشگاه د ښځو لاسي صنایعو ته جوړه کړو.))

د یادولو وړ ده چې ګنډ افغاني په ځانګړې ظرافت جوړېږي او بېلابېل رنګونه په کې کارول کېږي. په کندهار بازار کې د دغو جامو بیه له ۴ تر ۷ زره افغانۍ او د کابل په بازارونو کې له ۴ تر ۱۵ زره افغانۍ ده.

**تاج محمد ساحل**

# بعد از پیروزی امارت اسلامی فرصت های خوبی برای استخراج معادن در افغانستان فراهم شده است

**میرمسجدی عزیزی**

اولتر از همه شکر گذارم که به فضل خداوندمتعال با پیروزی امارت اسلامی افغانستان الحمدلله امنیت و ثبات در تمامی جغرافیای کشور تامین بوده و هیچ تهدیدی به مردم و جهان متصور نیست که قابل تشویش باشد.

ثانیآ اینکه در بیست سال گذشته حضور نظامی امریکا و همپیمانانش در افغانستان اوضاع امنیتی، سیاسی ،اجتماعی و اقتصادی کشور ما درهم و برهم شد و بیشتر مردم متدین ما در فقر،گرسنگی و بیکاری بسرمی برند.

زیرادر این مدت خارجی ها میلیارد ها دالر به افغانستان کمک نمودند ولی با تاسف که دولتمردان فاسد افغانستان هیچ کار بنیادی را در این کشورانجام ندادند که یکتعداد از هموطنان ما مصروف کار شوند.

در حالی که افغانستان سر زمینیست که سرشار از معادن و گنجینه های دست ناخورده بوده و هر کدام این معادن از اهمیت و ارزشمندی خاصی برخورداراست. اخیرا همایون افغان سخنگوی وزارت معادن و پترولیم به رسانه‌ها گفته است که((قرارداد معادن کشور در تمام مقیاس ها به سکتور خصوصی در فضای شفاف و دور از فساد اداری انجام شده است.))

وی افزود: ((از مدت پیروزی امارت اسلامی تا اکنون وزارت معادن و پترولیم بیش از ۱۸۰ معادن کوچک را برای استخراج به شرکت های داخلی قرارداد آنها را سپرده و هیچ یکی از معادن در مقیاس کوچک به شرکت های خارجی قرارداد نشده است.))وی گفت: ((استخراج سمنت قندهار به عنوان یکی از پروژه های بزرگ اقتصادی وزارت معادن در یک ونیم سال گذشته یاد آوری نمود و گفته که این پروژه نیز به یکی از شرکت های داخلی واگذار شده است.))



وی از قرارداد استخراج نفت قشقری گفت :

بعد از رویکار آمدن امارت اسلامی افغانستان قراردارد استخراج نفت قشقری در ولایت سرپل را تجدیدنموده و با یک شرکت چنیایی قراردادشده است.

وی در ادامه گفت:این وزارت مصمم است تا در آینده یک تعداد پروژه های بزرگ و کوچک مانند:معدن طلای تخار،آهن هرات،سرب و جست غور و یک تعداد پروژه های دیگر را به داوطلبی بسپارند.شرکت های داخلی و خارجی می‌توانند در این داوطلبی اشتراک نمایند.

بدون تردید با استخراج و کار بالای هر یک از این معادن نه تنها در رشد و انکشاف اقتصادی کشورما تغییرات بزرگ رونما می گردد بلکه تعداد زیادی از هموطنان بیکار، به خصوص جوانان با استعداد مشغول کار می شوند که نه تنها صفوف بیکاران کم می گردد بلکه مشکلات بزرگ خانواده ها نیز مرفوع می شود.

به باور کارشناسان اقتصادی افغانستان دارای منابع طبیعی و معدن بزرگ می باشد و بر اساس سروی های جهانی،یک طیف وسیع از منوال ها و ذخایر شناخته شده مانند:مس ،زغال سنگ،آهن،طلا،نفت،گازدر افغانستان موجود است. مردم ما امیدوار اند که با پیروزی مجاهدین امارت اسلامی افغانستان برای استخراج معادن و زیربناهای اقتصادی کشور توجه جدی صورت گیرد تا از این احتیاجی مردم افغانستان نجات یابند.

# په اقتصاد کې داهم مطالعه کېږي چې شتمني ځنګه مصرفېږي

د اقتصاد علم راز راز تعریف شوی دی. داسې تعریف نه شته ،چې پر هغه دې اقتصادپوهان سره موافق وي. اقتصاد پراخ علم دی. ډېرې څانګې او ډولونه لري، دا پراخ علم په یو څو محدودو واقعي او حقیقي الفاظو کې تعریفېدای نه شي.

لومړی تعریف: اقتصاد یوه عربي کلمه ده، چې په عربي ژبه کې په پنځو معناوو سره راغلې ده، چې له اعتدال غوره کولو، له کموالي او زیاتوالي څخه ډډه کولو، زېرمه کولو او ساتلو، آسانتیا او سمون څخه عبارت دی.

پورتنی تعریف په لنډ ډول را اخلو. اقتصاد هغه علم دی چې منځګړیتوب، زېرمه کولو، اعتدال، آسانتیا او سمون ته وایي. لکه څنګه چې مې وویل :اقتصاد پوهانو اقتصاد ډول ډول تعریف کړی؛ نو پر همدې اساس یې درته د شتمنې، مادي هوساینې، وسایلو او امکاناتو له اړخه تعریفوو.

الف- اقتصاد د شتمنۍ علم دی: اقتصاد هغه علم دی، چې دشتمنۍ نوعیت، شتمنې لاسته راوړل او د شتمنۍ له وېشلو څخه بحث کوي.

دا تعریف وایي، چې شتمني څه شي ده، په څو ډوله ده، څنګه لاسته راوړل کېږي، او په څه ډول وېشل کېږي. په ساده ډول ویلی شو، چې انسان تل د شتمنۍ د لاس ته راوړلو په فکر کې وي او ټولې انساني کړنې ځکه رامنځته کېږي چې انسان غواړي شتمني تر لاسه کړي او د انسان دغه غوښتنه اقتصادي ژوند مخته وړي.

ب ـ اقتصاد د مادي هوساینې علم دی: د مادي هوساینې له مخې اقتصاد په شپږ ډوله دی.

۱- شتمني: په اقتصاد کې یوازې دا نه مطالعه کېږي چې شتمني ځنګه لاسته راوړو؛ بلکې داهم مطالعه کېږي، چې شتمني ځنګه مصرفېږي.

۲- ورځنی ژوند: له ورځني ژوند څخه موخه ټول هغه کارونه دي، چې ځنګه شتمني لاس ته راځي اوځنګه په لګښت رسېږي او په ټولنه کې کوم کارونه تر سره کېږي، چې خلک ورته به بد نظر نه ګوري او د دې برعکس هغه کارونه چې ټولنه ورته په ښه نظر نه ګوري. لکه رشوت، غلا اوداسې نور چې دا په اقتصاد کې نه راځي او دا کارونه په ورځنۍ ژوند پورې تړلي هم نه دي.

۳- دروغ: په اقتصاد کې د هغه شخص کړنې مطالعه کېږي، چې روغ وي، د لیوني، ملنګ او ساده انسان کړنې په اقتصاد کې نه مطالعه کېږي، ځکه د دوی کارونه له ورځني ژوند څخه بېل دي.

۴- مادي اړتیاوې: اقتصاد د انسان هغه کړنې مطالعه کوي؛ چې مادي توکي رامنځته کوي او کومې کړنې چې مادي توکي نه رامنځته کوي، په اقتصاد کې نه شمېرل کېږي.

لکه: کروندګر کرنه کوي او مادي پیدا کوي، خو د دې برعکس د استاد او څارنوال کړنې ځکه په اقتصاد کې نه راځي؛چې دوی مادي توکي منځ ته نه راوړي.

۵- خوشحاله ژوند: په اقتصاد کې هغه مادي توکي مطالعه کېږي، چې انسان ته مادي خوشحالي ورکوي او هغه مادي توکي چې انسان ته خوشحالي نه ور په برخه کوي؛ په اقتصاد کې نه شمېرل کېږي. لکه: د شرابو څښل، چرس او.... ځکه دغه توکي انسان ته مادي خوشحالي نه ور په برخه کوي حرام دي، نو ځکه یې اقتصاد نه مطالعه کوي.



۶- د شتمنۍ لګښت او پیدایښت: انسان د خپلو غوښتنو د پوره کېدو لپاره چې په کومو اصولو عمل کوي، شتمني له مشروع لارو ترلاسه کوي او په لګښت یې رسوي، ترڅو پرمختګ او خوشحالي ترلاسه کړي.

ج – اقتصاد پر محدودو وسایلو باندې دنامحدودو غوښتنو د پوره کولو له اړخه: اقتصاد یو داسې علم دی، چې انسان خپلې نامحدودې غوښتنې په خپلو محدودو وسایلو پوره کړي او وسایل په بېلابېلو لارو وکاروي او اقتصاد ته یې د علم درجه ورکړه.

نو د اقتصاد په اړه د پوهانو نظرونو او تعریفونو ته په کتو سره ویلی شو، چې اقتصاد د شتمنې د لاس ته راوړلو، د شتمنۍ د مصرفولو، مادي هوساینې او له کمو وسایلو څخه د زیات کار اخیستنې علم دی او یاد مسایل څېړي.

اخځلیکونه:
مبادي اقتصاد
لیکوال محمد قاسم کاکړ
اقتصاد پېژندنه
**محمد داود نیازی**

## د سترګو د کمزورتیا عوامل څه دي؟

که خپلو سترګو ته ډېر پام نه کوئ او د وړو ستونزو په وړاندې یې بې پروا یاست، نو لویه تېروتنه کوئ. د سترګو د کمزورتیا ځینې نښې شته، که چېرې دا نښې بابېزه وګڼل شي، کېدای شي ستونزه ډېره شي؛ مثلاً: د سترګو تار تار کېدل، درد، د لید کمزورتیا، سوځېدل او سوروالی. د دې نښو په صورت کې باید ژر د سترګو ډاکټر ته مراجعه وشي.

که چېرې شکر یا د وینې لوړ فشار لرئ، هرومرو مو په دوامداره توګه سترګې معاینه کوئ؛ ځکه دې برخه کې سترګې هم دي چې اکسیجن نه ورته رسېږي.

د عینکو نه استعمال: ځانګړې سترګۍ (عینکې) کارول هم مهم دي. هغه کسان چې په چمن کې له شنه رنګ سره حساسیت لري، هغوی چې ترکاڼي یا نجاري کوي، وېلډېنګ کاري کوي باید دا ډول عینکې په سترګو کړي.

سینګار :بله تېروتنه چې ډېری مېرمنې یې کوي او خپلې سترګې ژوبلوي، له سینګار سره وېډېدل او د تاریخ تېرو سینګار توکو کارول دي.له هرو درېو میاشتو وروسته



کېدای شي سترګې مو کومه ستونزه پیدا کړي او تاسو به پرې پوه نه یاست. کله کله شکر او د وینې لوړ فشار د ړندېدو لامل کېږي.

سګرېټ څکول: سګرېټ خورا نور زیانونه هم لري؛ خو دلته مو د سترګو په اړه خبرې کړي. سګرېټ څکول د دې لامل کېږي ،چې له سترګو اوبه لاړې شي او شبکیه یې خرابه کړي. سګرېټ د وجود د غړو جوړښتي برخو ته د اکسیجن د سمې رسېدا مخه نیسي یا یې له ستونزو سره مخ کوي. په خپل هغه سینګار توکي باید ونه کاروي، چې سر یې پرې پرانیستلې وي. کله چې ویده کېدلې، سینګار دې پاک کړی.

لېنز کارول: لېنز کارول او د هغه سم نه پاکول یې بل لامل دی. لېنز باید په هغه محلول ومنځل شي چې هغه ته ځانګړي شوي وي. په اوبو پرې نه مینځل شي. د لامبلو وخت کې باید لېنز بېرته شي. ډېر روغتیاپالان وایي ،چې هغه لېنزونه دې وکارول شي، چې یوازې یو ځل د کارولو وړ وي. ۵مخ

## ریاست کار و امور اجتماعی تخار :
# ما برای جوانان تحصیل کرده زمینه کار را فراهم می کنیم

شماری از باشنده‌گان ولایت تخار، شکایت دارند که میزان بی‌کاری در این ولایت افزایش یافته است.

آنان می‌گویند که به امید پیدا کردن کار، روزها در زیر آفتاب، سرگردان می‌باشند و حتی به ولایت‌های همجوار نیز می‌روند، اما نمی‌توانند برای خود کار پیدا کنند.

خالدین؛ یک تن از باشنده‌گان تخار، از دولت می‌خواهد که برای مردم زمینه کار را فراهم سازد.

او افزود:« برای کارگری به تخار آمدیم، کاروبار نیست به‌همین خاطر مردم به کشورهای دیگر می‌روند، ما از دولت می‌خواهیم که زمینه کار را برای ما فراهم سازد.»

از سویی هم فضل‌الله؛ دیگر از باشنده تخار که از پوهنتون فارغ شده است، گفت:« جوانان از بی‌کاری زیاد رنج می‌برند، جوانان زیادی را می‌بینم که بی‌کار استند و وقتی به تنگ می‌آیند، به‌طرف ایران و کشورهای دیگر می‌روند، امارت اسلامی باید به جوانان زمینه کار را فراهم سازد.»

در همین حال مسئولان ریاست کاروامور اجتماعی تخار، می‌گویند که در هماهنگی با دیگر اداره‌های دولتی و موسسه‌ها تلاش می‌کنند تا برای مردم، زمینه کار را فراهم سازند.»

محمد آصف رحیمی؛ آمر امور اجتماعی این ریاست، پایین بودن ظرفیت جذب نیروی کار در اداره‌های دولتی را یکی از دلایل افزایش بی‌کاری می‌داند.

رحیمی گفت:

« بعد از آمدن امارت اسلامی، یک هزار و ۶۵۴ تن در اداره‌های دولتی استخدام شده‌اند و از طرف ریاست کار و امور اجتماعی جواز کار برای شان داده شده است، تعهد ما برای جوانان تحصیل کرده است که در هر بخشی که کار باشد و بست خالی شود، ما آماده همکاری با آنان هستیم، در قدم اول ما برای جوانان تحصیل کرده زمینه کار را فراهم می‌کنیم.»گفتنی‌ست که پس از روی کار آمدن امارت اسلامی، میزان بی‌کاری در کشور به‌گونه چشم‌گیری افزایش یافته است.کارشناسان اقتصادی، این معضل را یکی از عوامل اساسی در افزایش فقر در کشور می‌خوانند.

# بازی بدمینتون در افغانستان و جهان

پوهنیار خارمن ذاکر (( بیات))

اگر ورزش، سازنده ی شخصیت فرد نباشد و او را برای آینده خویش و اجتماع آماده نسازد و فقط جسم را تقویت کند و شخص را مانند ماشینی که باید اعمال مشخص را اجراء کند بار آورد، به انحراف رفته است و این نوع ورزش نه تنها اثری بر شخص و اجتماع نه خواهد داشت بلکه به صورت ابزار فرد و جامعه در خواهد آمد. اگر ورزش و فعالیت های مربوط، در مسیری درست فرا گیرد، فواید و منافع اجتماعی ، اقتصادی ، سیاسی ، .. و موجود در آن به فرد و جامعه و کل نظام باز می گردد .

بدمنتون یکی از رشته های ورزشی است ، که بازیکنان در گیر را به سمت تکامل و تعالی سوق می دهد و سازندگی خاصی را ، متناسب به آنها ابلاغ نشده است به طور مثال :

پس از هر بازی غالبا هردو بازی کن برنده و بازنده با فشار دادن دست قاضی یا (داور میدان) سرویس و داوران خط و کلیه عوامل اجرایی ، از آن ها تشکر و قدردانی می نمایند .

در بدمنتون فقط نیرو مطرح نیست ، آن چه مهم است زیرکی ، ابتکار در بازی و هوشیاری است و کسی که یک بار این ها را تجربه کرده ویا کند همیشه با ناراحتی دست از بازی می کشد، مدت ها است که بازی بدمنتون همگانی شده است .

تاریخچه بازی بد منتون:

درمورد به میان آمدن بازی بدمنتون نظریات گوناگون ومتفاوت وجود داشته اما نظریه قوی این است که بازی بدمنتون ازشهر پونا ی هند سرچشمه گرفته وبه همین دلیل درهندوستان این بازی را پونا می نامند.

این بازی توسط یک نفر افسر انگلیسی از هندوستان به انگلستان انتقال گردیده است وازآنجایکه (دوک بیفورت) به این بازی علاقه مند بود درخانه قصر بدمنتون تهیه نموده ودران مهمانان را سرگرم می ساخت.

تاسال ۱۸۷۷ میلادی بدمنتون کدام قانون خاص نداشت قوانین اصلی این ورزش درسال ۱۸۷۷م درکراچی که درآن زمان جز کشور هندوستان بود تنظیم ودرسال ۱۸۸۷م درانگلستان اصلاح گردید ودرسال ۱۸۹۰م مجددا اصلاح شد این ورزش به سرعت ازکشورانگلستان به آمریکا ،کانادا، استرالیا، و زیلاند جدید گسترش یافت.

نقطه انتقال ورشد بدمنتون دراین است که یک بازی خانواده گی محسوب میگردد ودر فامیل هرشخص به هرسن میتواند بدمنتون بازی کند.

اولین کلپ بدمنتون درسال ۱۸۷۳م درانگلستان تاسیس شد.

اولین دور مسابقات بدمنتون درسال۱۸۹۰م درانگلستان برگزارگردید.

فدراسیون بدمنتون درسال ۱۸۹۳م درانگلستان ایجاد گردید.

اولین دورمسابقات آقایان دربخش بدمنتون درسال ۱۸۹۹م درکشورانگلند برگزارگردید.

اولین مسابقات بد منتون بانوان د رسال ۱۹۰۰م درانگلند تد ویرگرد یده بود.

تعریف بدمنتون : بدمنتون ورزشی است که میتوان آن را هم در داخل سالون و در هوای آزاد اجراء کرد .در بدمنتون شور و هیجانی است که در سایر رشته های ورزشی به چشم میخورد .مهارت در این بازی بستگی به سرعت و تکتیکی دارد که بازیکن خوب باید داشته باشد چه بسا که یک غفلت کوچک سرنوشت تیم را کلا عوض میکند .

قوانین بازی بدمنتون : هنگام بازی بدمنتون به شیوه های مختلف ضربه به توپ وارد نمود تا بازی جالب تر گردد، قوانین بدمنتون برای تازه کار و نو آموخته ، ظریف و تقریبا پیچیده است ، اما آموختن چند قانون ابتدائی و اصلی برای شروع بازی کافی است . و بقیه قوانین در طول تمرین و بازی به ترتیب نیاز، فرا گرفته میشود .

مشخصات بازی بدمنتون : طول وعرض میدان بازی بدمنتون ۱۳,٤۰ سانتی متر در ۱۸،٥ سانتی متر برای یک نفره و ۱۳,٤۰ سانتی متر در ٦,۱۰ سانتی متر برای دو نفره تعین و تثبیت گردیده است . وزن توپ ۱۲۰ گرام با پرهای مثنوی پلاستیکی، در مسابقات رسمی زمین آن با فرش چمن مثنوی به رنگ سبز و خطوط آن به سفید رنگ آمیزی گردیده است ، لباس مورد نیاز پیراهن معه نیکر دراز ، جوراب ، و کرمچ ورزشی میباشد .در سالون سربسته حد اقل به ارتفاع ۱۰ متر بازی ص۵

**بـازی بدمـــینتون...**

اجراء میشود . در بازی بدمنتون دو نوع حالت قابل اجراء است.

الف : حالت حمله ای

ب : حالت دفاعی . بازی بدمنتون به سه نوع سرویس قابل اجراء میباشد.

1 – سرویس کوتاه . 2 – سرویس متوسط . 3 – سرویس بلند .

نتیجه گیری : در بدمنتون فقط نیرو مطرح نیست، آن چه مهم است زیرکی، ابتکار در بازی و هوشیاری کسی که یک بار این ها را تجربه کند همیشه ناراحتی دست از بازی میکشد مدت ها است که بازی بدمنتون ورزش همگانی شده است . در بیش از ۷۰ کشور جهان بیش از ۲ صد میلیون بازی کن مرتبا این بازی را می پسندند بدین ترتیب تعجب ندارد که بدمنتون در اروپا یکی از رشته های ورزشی مورد علاقه است در آلمان ۱,٤ میلیون بازیکن در این رشته فعالیت دارند یعنی بیش از تمام ورزشکاران رشته های بسکتبال ، هاکی ، شمشیر بازی، و قایق رانی ، ۲۰ هزار متعلم مکتب چه از پسر و دختر در مسابقات قهرمانی جوانان المپیک بدمنتون شرکت می کنند .

در انگلستان هر هفته جمعیتی حدود ٦ برابر افرادی که به استدیوم های فوتبال میروند، بدمنتون بازی میکنند. بدمنتون در حال رسیدن به شهرت جهانی است و این امر که کمیته بین المللی المپیک بدمنتون را به عنوان یک رشته المپیکی از المپیک بارسولونا سال ۱۹۹۲ م به رسمیت شناخت و دارای کمال اهمیت است . بدمنتون به دلیل شرایط خاص بازی ، که ابعاد مختلف جسمانی و روانی را بطور کامل پرورش میدهد ، و هم سازنده فکر و توسعه دهنده هوش است میتواند برای بازیکنان رشته های دیگر ورزشی تاثیر مثبت داشته باشد و فرد را برای ورزش مربوطه دروس و زنده گی آینده آماده تر میسازد .

**منابع :**

**۱ـ کتاب بدمنتون غلام محسن یزدان پناه ۱۳۹۲**

**۲ ـ سایت انترنتی گوگل**

**۳ـ کتاب تربیت بدنی و ورزش پوهنوال دوکتور محمد رسول زلمی کابل ۱۳۹۷**

**د سترگو د کمزورتیا...**

څوک چې لېنز اخلي د سترگو متخصص ته دې وښيي چې سترگو ته يې مناسب دی که نه.کمپیوټر ته کېناستل: کمپیوټر ته ډېر کېناستل او رڼا ته يې کتل هم د سترگو د کمزورتيا سبب کېږي. کله چې مانيټور ته څوک گوري او له معمولي حالته ډېر ورته ځير کېږي؛ نو د سترگو د ژوبلېدو امکان يې شته.د سترگو د قطرې ډېره کارونه: د سترگو د قطرې ډېره کارونه د دې لامل کېږي ،چې هغه ستونزه لرې شي؛ خو بيا ورسره عادي شي. البته يوازې ځينې قطرې دي چې ناروغي ورکوي؛ خو وروسته بيا د سترگو د لا سوروالي لامل گرځي.

احمدي

**په افغانستان...**

د خپلو پولو د خونديتوب په برخه کې نړيوال مکلفيتونه ترسره کړي.)سرچينې زياته کړې ،چې اسلامي امارت هېڅ چا ته اجازه نه ورکوي، چې د افغانستان ملي امنيت ته گواښ پېښ کړي او يا هم زموږ خاوره د بل چا پر ضد وکاروي.نوموړې همدارنگه ويلي؛ ايراني چارواکو ته په کار ده ،چې د افغانستان په اړه د تشويش اچوونکو څرگندونو پرځای د دواړو گاونډيو او دوستو هيوادونو او ولسونو ترمنځ پر رغنده اقتصادي، سياسي او ټولنيزو اړيکو تمرکز وکړي.

**د امريکا فشارونو...**

امارت ژمنه کړې، چې د افغانستان خاوره به د بل هيواد پر ضد نه کارول کېږي.ده ويلي، چې اسلامي امارت له پاکستانه غوښتي، چې هېچا ته به اجازه ور نه کړي، چې د دغه هېواد له لارې د افغانستان له هوايي حريم څخه سرغړونه وکړي.محمد يعقوب مجاهد د تحريک طالبان پاکستان په اړه ويلي، چې دا ډله نه په افغانستان کې شته او نه يې هم اسلامي امارت تمويلوي.نوموړی وايي: پاکستان په خپلو ادعاوو هڅه کوي؛نړۍ ته وښيي، چې اسلامي امارت په افغانستان کې د تحريک طالبان پاکستان د شتون په اړه پر ژمنو عمل نهکوي. محمد يعقوب مجاهد په دې مرکه کې دا هم ويلي؛ اسلامي امارت نه غواړي هغه کسان په حکومت کې ونيسي، چې له ((اشغالگرو)) سره ملگري وو، خو په افغانستان کې د عامو وگړيو په توگه ژوند کولی شي.

**نـړۍ دې له...**

کسانو له کورنيو سره په مرستو خبرې وکړې او زياته يې کړه، چې افغانستان له کلونو راهيسې له بشري او اقتصادي ناورينونو سره مخ دی او ډېرو برخو کې مرستو او لاسنيوي ته اړتيا لري.نوموړي له نړيوالو څخه غوښتنه وکړه، چې له سياسته ور اخوا د افغانستان دوگړو لاسنيوي ته راوړاندې شي او د افغانستان ترڅنگ ودرېږي.په ورته وخت کې د ارام سمندر هېوادونو لپاره د ملي ټولنو د نړيوال فدراسيون مسئول اليگذيندر په دغې ناسته کې وويل: اړينه ده، چې ملي ټولنې افغانانو سره د مرستو په موخه د خپلو هيوادونو له اړوندو مسئولينو سره ناستې وکړي او ويې هڅوي، چې افغاني سرې مياشتې سره د بشري لاسنيوي او ملاتړ د پروژو تمويل کې همکاري وکړي او په اقتصادي او روحي توگه ځپل شوي افغانان له پامه ونه غورځوي.گډونوالو همدارنگه په خپلو خبرو کې د افغاني سرې مياشتې فعاليتونه او لاسته را وړنې وستايلې او گډو همکاريو ته يې لېوالتيا وښودله او په افغانستان کې د بشري ستونزو د حل پر لارو او همکاريو ژمنه وشوه.

**امام ابوحنيفه (رح)...**

سره د دوي اړيکې هم پياوړې کوي.دغه نندارتون د افغانستان او پاکستان د سوداگرۍ د گډې خونې د هڅو يوه برخه ده، چې موخه يې د سياسي گټو له په پام کې نيولو پرته د دوه اړخيزو سوداگريزو اړيکو پراختيا ده.د امام ابوحنيفه رحمةالله دويم ملي او نړيوال نندارتون، چې د جولای پر ۱۶مه پيل شوی؛ تر پرونه د افغانستان د نړيوال نندارتون په مرکز کې روان ساتل شوی و.د دغه نندارتون د جوړېدو موخه د افغانستان د کورنيو توليداتو وده، د نورو هيوادونو له نويو توليداتو سره د افغان سوداگرو او صنعتکارانو آشنا کېدل، د صادراتو، وارداتو او گډې پانگونې لپاره د نويو فرصتونو رامنځته کول او د افغان او نړيوالو سوداگرو ترمنځ د سوداگريزو اړيکو پراخول دي.

**د زړو بانکنوټونو...**

واخلي، خو په وينا يې، له ده څخه بيا څوک زړې افغانۍ نهاخلي او ((وايي، دا زړې دي.))په ورته مهال يادو اندېښنو ته د افغانستان بانک وياند حسيبالله نوري وايي، چې څه موده وړاندې يې بانکونو کې د ۱۰ گون او ۲۰ گون افغانيو د بدلېدو لړۍ پيل کړې او په وينا يې، خلک کولای شي، له فيس پرته خپلې زړې افغانۍ په نويو بدلې کړي.ده وويل: (( هيوادوال چې ۱۰ او ۲۰زړې افغانۍ لري، کولای شي سوداگريزو بانکونو او د افغانستان بانک نمايندگيو ته لاړ شي او خپلې زړې پيسې په نويو بدلې کړي. هېڅ کمېشن نشته او د ۵۰ او ۱۰۰ افغانيو د وېش بهير به هم ډېر ژر پيل شي.)) بلهخوا د اقتصادي چارو شنونکي عبدالنصير رښتيا وايي، چې د زړو افغانيو شتون او خلکو ته د نويو افغاني بانکنوټونو نه رسېدنه لامل شوې ،چې خلک په ورځنيو راکړو ورکړو کې له گڼو ستونزو سره مخ شي.دی د نويو بانکنوټونو وېش د افغانستان بانک پولي سياستونو پورې تړلي بولي او په وينا يې: دغه بانک (( بازار کې اړتيا ته په کتو پيسې وړاندې کوي. که پيسې له اړتيا څخه ډېرې بازار ته وړاندې شي، د جدي ستونزو د رامنځته کېدو لامل کېږي، تورم رامنځته کېږي او د افغانۍ ارزښت ورسره راټيټېږي.))دا په داسې مهال دی ،چې د افغانستان بانک د قانون له مخې، زړې افغانۍ له بازار څخه راټولېږي او سوځول کېږي.

**پـه غـور کې څه د...**

ياد سړک د نورزو شابرج چوک څخه شروع د باچاخان جادې ترچوک پورې غځېدلې، چې شاوخوا ۱۳۲۰ متره اوږدوالي او ۱۴ متره پراخوالي لري.د يادونې وړ ده، چې پرون د دغه ښار د ۱۳ مې ناحيې اړوند په درېيم گذر کې ښاروالۍ د ۲،۲ ميليونو افغانيو په لگښت د ۲۲۳ مترو په اوږدوالي د يوه زابر رغنيزې چارې بشپړې کړې.

**کـه کورنيـو ته روغتيايي...**

راوړي. بهر درملتونونه يې راباندې زر او ۱۲۰۰ خرڅوي. کور له درملو ډک دی او ناروغ هم نه ښه کېږي.))د پروان بل اوسېدونکی عبدالقدوس وايي ،چې د بېکيفيته درملو او د ډاکټرانو د نشتون له امله يې نه يوازې ناروغان نه ښه کېږي، بلکې هره ورځ يې ناروغۍ هم ډېرېږي. نوموړي وويل: ((د پروان ملکي روغتون ته راغلي يم. اولادونه مې پر شري، چيچک او نورو ناروغانو اخته دي، وايي: يوې ناروغۍ ته هم درمل نه لري. دی زياتوي، هغه نسخه چې درمل يې په ټيټه بيه وي، د روغتون دننه او هغه نسخې چې درمل يې په لوړه بيه وي، له روغتونه بهر ته يې راجع کوي.د پروان دغه اوسېدونکي د دغه ولايت ملکي روغتون کې د ناروغانو ستونزې ته د نه رسېدنې له امله شکايت کوي او وايي: (( مرگ ته نږدې وي، بيا دې غم خوري، گنې څوک دې پوښتنه هم نه کوي.)) په همدې حال کې د پروان ۱۰۰بستريز تخصصي روغتون سرطبيب عبدالخليل حيدري وايي، چې تېرو دوو مياشتو کې څه باندې ۳۱۰۰ ماشومان چې عمرونه يې له پنځو کلونو کم دي او پر بېلابېلو ناروغيو اخته وو، دغه روغتون ته راوړل شوي دي.نوموړي په خپلسرې توگه د درملو کارونه، په کوچنيوالي کې د واکسين ناسم تطبيق او د کورنيو د عامه پوهاوي ټيټه کچه له هغو لاملونو بولي، چې له کبله يې ماشومان پر دې ناروغيو اخته شوي دي.هغه ماشومان، چې د پروان ملکي روغتون ته راوړل شوي، ډېری يې پر اسهالاتو، ديهايدرېشن، ويروسي هپاټيټ او شري ناروغيو اخته شوي دي.د حيدري په وينا: که وضعيت همداسې دوام وکړي او پر ساري ناروغيو داخته کسانو گراف همداسې لوړ روان وي، د پروان ملکي روغتون کې به د ناروغانو د بستر لپاره ځای پيدا نهشي.د روغتيايي چارو کارپوهانو په وينا: که د واکسين پلېکېدو کمپاينونه په سمه توگه پلې شي او د روغتيايي سپارښتنو په اړه کورنيو ته عامه پوهاوي ورکړي، ساري ناروغۍ به کمې شي.

# Hewad Daily

یکشنبه د محرم الحرام ۵ مه ۱۴۴۵ ق کال د ۱۴۰۲ ل کال د زمري لومړۍ، د 2023 م کال د جولای ۲۳ مه

د ورځپاڼو رئیس : م محمد ابراهیم نبیل
موبایل : ۰۷۸۲۰۸۰۶۶۶
آمر او مسئول مدیر : عطاء الله مبارز
موبایل: ۰۷۷۴۳۱۸۹۰۲
مسئول سکرتر: شېرمحمد نظري
موبایل: ۰۷۸۸۵۰۳۳۷۱

پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت نوې ودانۍ
د اړیکو شمېره: س: ۲۵۲۶۳۱۰ - ۰۲۰
E-mail :info@hewaddaily.com
E-mail : hewad1948@gmail.com
دهیواد ورځپاڼې انټرنېټي پاڼې دلاندې وېب سایټ له لارې هم کتلی شئ
وېب: سایټ www:dailies.gov.af/hewad
د شکایاتو اوتوزیع څانګه:
۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳-۰۲۰۲۱۰۶۹


## مولوي عبدالسلام حنفي د بلخ، جوزجان او فاریاب ولایتونو د مشرانو وړاندیزونه واورېدل

د ریاست الوزراء اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي ورمه ورځ د بلخ، جوزجان او فاریاب ولایتونو له یو شمېر قومي مشرانو، مخورو، ديني عالمانو او ځوانانو سره وکتل.



هغوی په دې کتنه کې د ښوونې او روزنې، روغتیایي کلینیکونو او د نښلوونکو لارو په څېر مسایلو او همدارز د اقتصادي او امنیتي وضعیت په اړه خبرې وکړې.دوی همدارنګه د یادو ولایتونو امنیتي وضعیت بېساري وباله او په دې برخه کې یې د اسلامي امارت د سرتېرو هڅې وستایلې.په ورته وخت کې د ریاست الوزراء اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي د اشغالګرو په وړاندې د جهاد، د اسلامي نظام د استقرار او د اسلامي نظام د ملاتړ په برخو کې د مجاهدینو، خلکو، ديني عالمانو او مشرانو قرباني وستایلې. حنفي همدارنګه د هغوی ستونزو او عریضو ته هم رسېدنه وکړه.

## فورزایمر: کېدای شي روسیه او ایران افغان حکومت په رسمیت وپېژني

په افغانستان کې پخوانی امریکایي دیپلوماتې فورزایمر په تازه مرکه کې ویلي، په قوي احتمال چې روسیه او ایران به طالبان ( اسلامي امارت) په رسمیت وپېژني. د نوموړي په وینا د امریکا په حکومت کې هم ځینې کسان غواړي، چې له طالبانو( اسلامي امارت) سره همکاري وکړي. مېرمن فورزایمر د مسکو فارمټ ته د طالبانو ( اسلامي امارت) غوښتلو ته په اشارې ویلي، روسیه په خپلو لوېدیځو سرحدونو کې په جګړه کې لګیا ده او نه غواړي، چې په شرقي برخه کې هغه هم د افغانستان له خاورې په بله جګړه کې ځان ښکېل کړي.

## د افغانستان او پاکستان ترمنځ د ټرانزيټي همکاريو پر پراختيا ټينګار وشو

د اسلامي امارت د صنایعو او سوداګرۍ وزارت سرپرست نورالدین عزیزي د افغانستان په



چارو کې د پاکستان له ځانګړي استازي آصف دراني سره وکتل او د دواړو هیوادونو ترمنځ یې د ټرانزیټ او سوداګریزو اسانتیاوو، ۲۴ ساعته بندرونو او د ګمرکي همکاریو پر پراختیا خبرې وکړې.د افغانستان د صنایعو او سوداګرۍ وزارت د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي ،چې په دې کتنه کې نورالدین عزیزي د افغانستان لپاره د پاکستان له ځانګړي استازي سره په کراچۍ بندر کې د افغان سوداګرو ستونزې شریکې کړې. په دې کتنه کې دواړو لورو د ټرانزیټ او سوداګرۍ د اسانتیاوو، د ۲۴ ساعته بندرونو او د ګمرکي همکاریو پر پراختیا خبرې وکړې. ویل شوي دي چې په دې کتنه کې دواړو لورو د کابل او اسلام آباد همکاریو او غونډو ته په اشارې سره؛ د پخوانیو پرېکړو او تړونونو پر دوام او د همکاریو پر لا پیاوړتیا ټینګار کړی دی. باید و ویل شي، چې آصف علي خان دراني په دې هیواد کې له وروستیو امنیتي پېښو وروسته په یوه درې ورځني سفر د چهارشنبه په ورځ د سرطان پر ۲۸مه کابل ته راغللی.

## تېره اونۍ د افغانستان د وسپني پټلۍ له لارې ۶۷ ۴۲۲ ټنه انتقالات شوي



د افغانستان د سپنې پټلۍ اداره وايي، چې تېره اونۍ ( د چنګاښ له مې تر۲۹مې) نېټې د وسپنې پټلۍ له لارې ۶۷ زره او ۴۲۲ ټنه انتقالات شوي.دغې ادارې په یوه خبرپاڼه کې ویلي، چې تېره اونۍ د حیرتانو بندر له لارې ۴۵ زره، ۸۳۸ ټنه، د آقینې بندر له لارې ۱۲ زره، ۷۶۲ ټنه او دغه راز د تورغونډۍ بندر له لارې ۸ زره ۸۲۲ ټنه انتقالات شوي، چې په ټولیزه توګه ۶۷ زره او ۴۲۲ ټنه انتقالات کېږي.یادې ادارې زیاته کړې، چې هڅه کوي لا زیاتو انتقالاتو ته مناسبه زمینه او سوداګرو ته اړینې آسانتیاوې برابرې کړي.د یادونې وړ ده، چې یادې ادارې ورمه اونۍ هم د افغانستان وسپنې پټلۍ له لارې د څه باندې ۶۰ زره ټنو توکو د انتقالاتو خبر ورکړی و.

## کابل ښاریان: د زړو بانکنوټونو چلښت خلکو ته سرخوږی جوړ کړی

نږدې شپږ میاشتې وړاندې د افغانستان بانک په یوې خبرپاڼه کې ویلي و، چې د ((۱۰، ۲۰، ۵۰ او ۱۰۰)) افغانیو نوي چاپ شوي بانکنوټونه یې پر خصوصي بانکونو وېشلي دي.د یادو بانکنوټونو له وېش څخه د شپږو میاشتو په تېرېدو لا هم د پلازمېنې کابل یوشمېر اوسېدونکي وايي ،چې تراوسه یې نوي افغاني بانکنوټونه نه دي ترلاسه کړي.د کابل اوسېدونکی ذبیح‌الله وايي، چې بازار کې د زړو افغانیو چلښت خلکو ته ستر سرخوږي جوړ کړي دي. د نوموړي په وینا، په ۱۰۰زره افغانیو کې یې ۳۰۰۰ افغانۍ جعلي وې.دی وايي: (( پر پیسو باور نه کوي، وايي



چې جعلي نه وي، ځوک یې نه‌اخلي. ډېرې یې خرابې دي. په ۱۰۰زره افغانیو کې یې حتماً ۳۰۰۰ ساختګي وي ،چې شاته یې یو او مخه یې بل ډول وي او تېروي یې.))حامد چې د کابل د نوي ښار انصاري څلور لارې کې کې د سړک پر غاړه تېل خرڅوي، وایي: اړ دی چې له خلکو زړې پیسې **۵مخ**

## کندهار کې د دېوال چپه کېدو له امله ۷ تنو ته مرګ ژوبله اوښتې

د کندهار د امنیې قوماندانۍ مسئولین وايي، چې د دې ولایت په مرکز کې د دېوال چپه کېدو پېښه کې ۷ کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده. د یاد ولایت د امنیې قوماندانۍ ویاند وايي، چې دغه پېښه د ښار د نهمې حوزې اړوند د حضرت بلال جومات سره ورمه شپه د یوه دېوال د چپه کېدو له امله شوې ده. د نوموړي په وینا، په دغې



پېښه کې د یو ماشوم په ګډون ۳ تنه مړه شوي او ۴ نور ټپیان شوي دي.

## په غور کې څه د پاسه لس کیلو متره سړک ورغول شو

د غور د کلیو د بیارغونې او پراختیا ریاست مسئولینو د دغه ولایت په فېروزکوه ښار کې د لس کیلو مترو سړک د رغول کېدو خبر ورکړی دی.د غور د کلیو د بیا رغونې او پراختیا ریاست مطبوعاتي مسئول ذبیح الله غوثي د باختر آژانس خبریال



ته ویلي، چې د ۲۱ میلیونو ۷۸۱ زره ۸۶۰ افغانیو په لګښت دلس اعشاریه څلور شپېته کیلو متره سړک د رغولو چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.د یادونې وړ ده، چې یاد سړک د څو سترو او کوچنیو کلیو ترمنځ د تګ را تګ آسانتیاوې برابرې کړې دي.

د یوبل خبر له مخې: د کندهار ښاروالۍ له لورې په دغه ښار کې د ۱۳۲۰ مترو په اوږدوالي د یوه سړک د پخولو چارې پیل شوې.د کندهار ښاروالۍ ویاند سیف الله عاصم وایي، چې **۵مخ**

## د روغتیايي چارو کارپوهان: که کورنیو ته روغتیايي پوهاوی ورکړشي ناروغۍ به کمې شي

د پروان اوسېدونکي په دې ولایت کې له پنځو کلونو کم عمره ماشومانو ترمنځ د ساري ناروغیو له ډېروالي اندېښنه څرګندوي.د پروان د غوربند درې اوسېدونکي شمعریز خان چې خپل دوه اولادونه یې د درملنې لپاره د پروان ملکي روغتون ته راوړي، وايي : ماشومان هر وخت ناروغ وي او ډاکټران هم د سمې درملنې او تشخیص پرځای ناروغانو ته د ارام درمل ورکوي.ده وویل: (( ډاکټران ناروغان سر سري معاینه کوي او ټولو ته پرستامول ورکوي. درمل نشته. نور درمل لیکي او بهر څخه یې باید **۵مخ**

## بهرني لنډ خبرونه

### ایران هم له سوېډن سره ډیپلوماتیکې اړیکې وځنډولې



په سوېډن کې د قران کریم د سوځولو په غبرګون کې ایران هم له دې هیواد سره ډیپلوماتیکې اړیکې وځنډولې.د ایران د بهرنیو چارو وزیر امیر عبداللهیان له ((صدا و سیما)) رسنۍ سره په مرکه کې ویلي ،چې دوی به په ایران کې د سوېډن نوي سفیر ونه مني او نه به هم خپل سفیر هلته ولېږي. ټاکل شوې وه ،چې د ایران نوي سفیر به په راتلونکو دوو ورځو کې سوېډن ته ولاړ شي.دا په داسې حال کې ده، چې ورمه ورځ د یادې پېښې په غبرګون کې په عراق او لبنان کې هم په دې اړه لاریونونه شوي وو.لاریون کوونکو په بغداد کې د سوېډن سفارت د ودانۍ یوه برخه هم سوځولې.په همدې حال کې د لبنان په مرکز بیروت کې هم زرګونو کسانو لاریون کړی، چې قرانکریم یې له ځانه سره لېږداوه او د سوېډن بیرغ ته یې اور اچولی دی.د افغانستان اسلامي امارت هم په سوېډن کې د قران کریم د سوځولو په غبرګون کې په هیواد کې د سوېډن کمېټې هر ډول فعالیت ځنډولی دی.

### اېټالیا کې د ۸۵۰ میلیونو یورو په ارزښت کوکایین نیول شوي



اېټالیا کې پولیس وايي، چې د دې هیواد په سوېلي سیسلي ساحل کې له کښتیو څخه یې ۳،۵ پنځه اعشاریه درې ټُنه کوکایین نیولي دي. پولیسو زیاته کړه، چې د نیول شویو کوکایینو ارزښت ۸۵۰ میلیونه یورو ته رسېږي ،چې په تړاو یې پنځه کسان هم نیول شوي دي.
د پولیسو په وینا، دا لومړی ځل دی، چې په دې هیواد کې په دومره لوړه کچه نشه‌يي توکي نیول کېږي.

### د سي.آی.اې مشر : پوتین ښايي د واګنر ډلې له مشر څخه غچ واخلي

د امریکا د استخباراتي ادارې یا سي.آی.اې مشر وايي: ولادیمیر پوتین د واګنر ډلې مشر یفګېني پریګوژین نه د غچ اخیستلو لپاره پلان جوړولو باندې لګیا دی.ښاغلي پریګوژین شاوخوا یوه ماشت مخکې د ولادیمیر پوتین پر ضد د یوه پاڅون مشري وکړه.د سي.آی.اې مشر ویلیم برنز ویلي، دې پاڅون د پوتین په جوړ کړي نظام او ځواک کې د پام وړ ضعف رابرسېره کړی دی.ده د ((اسپین امنیتي ناستې)) ته وویل، چې له همدې کبله ښايي ولادیمیر پوتین له هغه انتقام واخلي خو په وینا یې، ((موږ چې د کوم څه شاهد یو دا د پوتین یو ډېر پېچلي عمل)) دی.



### اروپايي ټولنې پر ایران نوي بندیزونه ولګول



اروپایي ټولنې، په سوریه کې د بشار اسد د حکومت د پوځي ملاتړ او پر اوکراین د روسیې د برید د ننګې په خاطر پر ایران نوي بندیزونه ولګول. اروپایي ټولنې په یوه راپور کې ویلي، چې د اوکراین پر ضد د روسیې له برید څخه د ایران پوځي ملاتړ ته په کتو، دې شورا د محدودوونکو اقداماتو لپاره نوی چوکاټ جوړ کړی. په نویو بندیزونو کې، د هغو پرزو د صادراتو بندیز هم شامل دی، چې د بې پیلوټه الوتکو په جوړولو کې کارول کېږي.